دو فصلنامۀ
علمی-تحقیقی عینک علمي-څېړنیزه شپږ میاشتنی مجله

د امتیاز خاوند: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه/مؤسسۀ تحصیلات عالی لوګر تاریخ جواز مجله: ۱۴۴۴/۱۱/۱۴

# د ماشومانو په اسلامی روزنه کې د جوماتونو رول

**پوهنیار محمد نذیر محمدی [۱]، پوهنمل ابراهیم نوری [۲]**

[۱،۲] اسلامی علومو او فرهنګ ډیپارټمنټ، ښوونې او روزنې پوهنځی، لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه: افغانستان.

بریښنالیک: Mohammadimohammadnazir۱@gmail.com

**لنډیز**

**مسئلې بیان:** په دې مقاله کې د ماشومانو په اسلامي رزونه کې د جوماتونو رول په تحلیلي مېتود څېړل شوی، دا چې له یوه اړخه له جوماتونو څخه د مسلمانانو فاصله او له بل اړخه د استعمار له لوري جوماتونو سره فکري جګړه شتون لري؛ نو له دې امله د ماشومانو په اسلامي روزنه کې د جوماتونو رول خورا مبرمه اړتیا ده.

**موخه:** ددغې څېړنې موخه د ماشومانو په اسلامي روزنه کې د جوماتو رول په ډاګه کول دي.

**مواد او څېړندود:** دا څېړنه په تحلیلي مېتود تر سره شوې ده، د معنوي اقتباسونو په برخه کې د کتابونو له منځپانګې څخه کار اخېستل شوی دی.

**پایله او پایلیزه:** د څېړنې له پایلو ښکارې چې د ماشومانو اسلامي روزنه یوه الهي وجیبه ده چې ستر او مهم مرکزونه یې جوماتونه دي، د ماشومتوب مرحله دومره حساسه ده که چېرې له دې فرصت څخه ګټه وا نه‌خېستل شي، ماشوم په اسلامي ښه ونه روزل شي بیا به یې روزنه اسانه نه وی ښایي تر دې چې بیا روزنه به یې محال ته ورته وی.

**کلیدي کلیمې**: اسلام، روزنه، رول، جوماتونه او ماشومان

**استناد**: محمدي، محمدنذیر، او نوري، ابراهیم. (۱۴۰۴). د ماشومانو په اسلامي روزنه کې د جوماتونو رول یېزه علمی او اقتصادي څېړنه **عینک** *علمي*- څېړنیزه مجله، دویم کال، ګڼه ۴، صفحه ۱۴۷-۱۶۴.
خپرندویه اداره: لوګر د لوړو زده‌کړو مؤسسه © د لیکوال یا لیکوالانو حق.

**سريزه**

الحمد لله الذی نسب المساجد إليه تشريفاً و تعظيماَ، وأذن أن تُرفع تبجيلاً و تکريماً، أحب البقاع إليه لعظمة وظائفها تعبداً و تربيةً و تعليماً، والصلاة والسلام على من عنی المسجد کل عنايةٍ وخصه بجزيل الرعايةِ و على آله و أصحابه عمار المساجد والقدوة الصالحة لکلِ عابد و زاهد.

وبعد: جوماتونه د اسلام د سپيڅلي دين د اصولو په رڼا کې د اسلامي روزنې له بنسټيزو مرکزونو څخه شمېرل کېږي چې د ماشومانو په روزنه کې مهمه ونډه لري، جوماتونه نه يوازې د عبادت او لمونځ ځايونه دي؛ بلکې داسې يو روزنيز چاپيريال دی چې ماشومان پکې ايماني، روحي، عبادتي، اجتماعي، اخلاقي، سياسي او جهادي روزنه زده کوي چې په ترڅ کې يې د فرد او ټولنې، د انسان او خالق تر منځ متوازنه اړيکه پيدا کېږي او ټولنې ته يو نېک او مصلح شخص وړاندې کېږي.

د ماشومانو په اسلامي روزنه کې د جوماتونو اهميت له دې څخه څرګندېږي چې دوی ته د ايمان اصول ورښيئ، اللّه تعالی سره يې اړيکه ټينګوي، روحي او رواني سکون ورته حاصلېږی، په اخلاقی ارزښتونو سمبالېږی او له بدو کړو وړو څخه ژغورل کېږي، دوی ته ټولنيز چاپيريال برابروی چې له خپلې ټولنې سره اړيګه ټينګه کړي او د اړيکو او همکارئ مهارتونه تر لاسه کړي، مسلمانې ټولنې سره يې د تړاو احساس پياوړی شي،سياسي نبوغ مومي، دوست او دښمن د اللّه تعالی د دين په هېنداره کې پېژني تر دې دې ته چمتو کېږي چې د اسلام د لارې بلونکي، د اسلامي ارزښتونو ساتونکی او د الله تعالی د لارې سرښندونکی ترې جوړ شي.

د دې ترڅنګ د جوماتونو له خوا وړاندې شوې تعليمی او روزنيز فعاليتونه، لکه د قرآن کريم د حفظ حلقې، جمعې خطبې، تعليمی درسونه او کلتوری او تفريحی فعاليتونه، د مسلمان ماشوم په شخصيت جوړونه کې بنسټيز رول لري. دا چې د جوماتونو په اړه ددين دښمنان تل هڅه کوي چې اسلامي دين يوازې جومات کې منحصر پاتې شي او جومات يوازې د عبادت د ځای په نښه وپېژندل شي او په جوماتونو کې د ماشومانو ددينی روزنې ترڅنګ د روحي، عبادتي، اجتماعي، اخلاقي، سياسي او جهادي رزونې مخه ونيسي. نو پر دې بنسټ مې وغوښتل چې دغې ستونزې لپاره ذکر شوې څېړنه تر سره کړو.

جوماتونه په اسلام کې له ارزښتناکه ځايونو څخه شمېرل کېږي چې د ماشومانو په اسلامي روزنه کې مهمه ونډه لري. دا علمي مقاله چې د ماشومانو په اسلامی روزنه کې د جوماتونو پر رول باندې څرخېږی، د اسلامي روزنې ارزښت په قرآني او نبوی دليلونو څرګندوی، د ماشومانو په اسلامی روزنه کې د جوماتونو ډول ډول مهم اړخونه پلټي چې جومات د ماشومانو لپاره يو ارزښتناک روزنيز مرکز معرفی کوي چې پکې په عامه توګه د قرآن او سنت د زده کړې سربېره په ځانګړي ډول اسلامي عقيدوي، روحي، عبادتي، اجتماعي، اخلاقي، سياسي او جهادي روزنه تر سره کېږي، جوماتونو ته د ماشومانو د تګ شرعي حکم او آداب بيانوي چې په پای کې د جومات پر وړاندې د استعمار له شومو موخو څخه پرده پورته کوي.

د څېړنې موخې

اصلي موخې: د ماشومانو په اسلامي روزنه کې د جوماتونو رول پېژندل دي.

فرعي موخې

١- جومات پېژندل او د هغه ارزښت، اهمیت او آداب بیانول.

٢ - اسلامی روزنه پېژندل او د ماشومانو اسلامي روزنې ارزښت بیانول.

٣ - جوماتونو ته د ماشومانو د تګ جواز او کړنلاره بیانول.

۴ -کورنۍ هڅول چې خپل ماشومان د اسلامي روزنې په پار جوماتونو ته واستوی.

۵- له استعماري فکري جګړې سره اسلامي فکري مبارزه کول.

د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنه: د ماشومانو په اسلامي روزنه کې د جوماتونو رول څه شي دی؟

فرعی پوښتنې

١ - جومات څه ته وايي، څه ارزښت، اهمیت او آداب لري؟

٢ - اسلامی روزنه څه ته وايي او د ماشومانو اسلامي روزنه څه ارزښت لري ؟

٣ - آیا په محمدي سپېڅلي شریعت کې د ماشومانو تګ جومات ته روا دی؟

۴ -کورنۍ خپل ماشومان جوماتونو ته د څه لپاره لېږی؟

۵- آیا د اسلام دښمان د جومات په اسلامي روزنیز رول پوه دي او مخنیوی یې کوي؟

**د څېړنې کړنلاره**

دا څېړنه په تحلیلي مېتود تر سره شوې ده، د معنوي اقتباسونو په برخه کې له کتابتوني مېتود څخه کار اخېستل شوی دی. د څېړنې کړنلاره تحلیلی او د شننې او تحقیقي تبصرو او ارزونو بڼه لري. قراني آیتونه د مصحف عثماني او ژباړه یې د پښتو معتمد تفسیر کابلي څخه اخېستل شوې ده. مواد په علمي او موضوعي توګه په بېلا بېلو عنوانونو کې ترتیب او تر څېړنې لاندې نیول شوي دي.

د جومات پېژندنه: مسجد په لغت کې د سَجَدَ، یَسجُدُ، سُجوداً څخه اخېستل شوی دی چې پر ځمکه د تندي د کېښودو مانا ورکوي؛ نو مسجد د یاد فعل د مکان اسم دي چې هغه ځای ته ویل کېږي چې پر هغه باندې سجده لګېږي. ابن منظور،(١۴١۴ هـ)، ٣/٢٠٤.

محمد بن عبدالله زرکشي د مسجد د اصطلاحي مانا په اړه لیکي: د ځمکې هر ځای ته مسجد ویل کېږي؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: «جُعِلَتْ لِی الأَرَضُ مَسْجِداً وَطَهُوراً».

ژباړه: ځمکه ماته د سجدې ځای او پاکوونکې ګرځول شوې ده.( زرکشي، (١٣٨۴هـ)، مخ٢٧).

همدا لامل دی چې امام قرطبی رحمه الله پخپل تفسیر کې د مسجد په اړه ویلی دی: هر هغه ځای مسجد نومول کېږي چې امکان لري چې په هغه کې د اللّه تعالی عبادت او هغه ته پکې سر په ځمکه کېښودل شي. قرطبی،(١٣٨٤هـ)،٧٨/٢. نو کولای شو چې د مسجد شرعي او عرفي تعریف داسې

وکړو: هغه ځای او مکان دی چې تل د لمانځه د ادا کولو لپاره جوړ شوی وي. الزید، (۱۴۲۲هـ)، مخ ۱۵. زموږ موخه هم په دې لیکنه کې همدا مانا ده.

د جومات فضیلت: جومات د ځمکې پر مخ باندې لومړنی ځای دی چې د اللّٰه تعالی په امر سره د بشر د ګټې او بندګانو د هدایت لپاره جوړ شوی دی، اللّٰه تعالی په دې اړه فرمایلي دي:﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَالَمِينَ﴾(آل عمران:۹۶).

ژباړه: بېشکه تر ټولو لومړی عبادت ځای چې د انسانانو لپاره ودان شو، هغه هماغه دی چې په مکه کې دی. هغه ته خیر او برکت ورکړل شوی او د ټولو نړیوالو لپاره د هدایت مرکز ګرځول شوی دی.

مسجد په اسلام کې دومره لوړه مرتبه لري چې الله جل جلاله د مسجد د جوړونکو په هدایت، مومنتوب او عابدتوب باندې ګواهي ورکوي او وایي:﴿ إِنَّمَايعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيوْمِ الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلاَةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يخْشَ إِلاَّ اللَّهَ فَعَسَى أُوْلَئِكَ أَن يكُونُواْ مِنَ الْمُهْتَدِينَ﴾(التوبة:۱۸).

ژباړه: د الله تعالی جوماتونه یوازې هغه کسان جوړوي چې پر اللّٰه تعالی او د آخرت په ورځې ایمان لري، لمونځ کوي، زکات ورکوي او پرته له اللّٰه تعالی څخه بل هیڅا څخه نه ویرېږي، هیله ده چې دا ډله به په سمه لاره لاړ شي.

جومات د شرافت او عزت له مخې، اللّٰه تعالی ته منسوب شوی، د هغهٔ د کور په نوم نومول شوی او د اللَه تعالی په امر سره تر ټولو ښه انسانان چې پیغمبران دي د مسجد ودانوونکی او خادمان ګرځول شوي دي لکه چې فرمایی: ﴿وَعَهِدْنَا إِلَىَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيتِي لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ﴾(البقرة:۱۲۵).

ژباړه: ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام ته مو امر وکړ چې زما دا کور (مسجد حرام) طواف کوونکو، اعتکاف کوونکو، رکوع کوونکو او سجده کوونکو لپاره پاک کړي.

همداسی د اسلام ستر پیغمبر شخصا د نبوي جومات په جوړولو کې ونډه اخیستې او پخپلو مبارکو لاسونو یې ودان کړی دی؛ نو بالآخره مسجد داسې یو سپېڅلی ځای دی چې رب العالمین ته خوښ دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د اللّٰه تعالی پر وړاندې تر ټولو خوښ ځایونه جوماتونه او بد ځایونه ښارونه دي. بخاري،( ۱۴۱۴ هـ)،۱۳۲/۲.

ماشوم پېژندنه: په عربي ژبه کې د"ماشوم"کلمه کوچني ته اشاره کوي، چې جمع یې "ماشومان" دي. ابن منظور ویلی دی: "ماشوم: کوچنی، ښځینه کوچنۍ او جمعه یې ماشومان دي. عربي ژبه کې طفل کلمه په کوچني او نرم شي باندې دلالت کوي. ابن منظور،(۱۴۱۴ هـ)،۱۱/ ۴۰۱.

همدارنګه په المعجم الوسیط کې ویل شوي دي:"ماشوم: د بني آدم او د هر شي کوچني ته ماشوم ویل کېږي. ابراهیم مصطفی ....(۱۳۹۲ هـ)، ۵۶۰/۲ .

په اسلامي شریعت کې ماشوم هغه کوچنی دی چې مکلفیت دورې ته نه وي رسیدلی، یعنې د بلوغت نښې یې نه وی څرګندې شوې، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَإِذَا بَلَغَ الأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ فَلْيسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾،(النور: ۵۹).

ژباړه: او كله چې ورسيدل واړه ماشومان ستاسي د بلوغ حد ته پس اجازه دې وغواړي په ننوتلو کې پر تاسې باندې لکه چې اجازه غوښته هغو کسان چې بالغان شوي وو پخوا له دغو ماشومانو .
آیت څخه څرګندېږی چې په اسلام کې ماشوم هغه څوک دی چې بلوغ ته نه وی رسیدلي، یعنې د شرعي مکلف نه وي.
فقهي کتابونو ماشوم داسی تعریف کړی دی: ماشوم هغه انسان دی چې بلوغ ته نه وي رسیدلي او د بلوغت د نښو څرګندیدو له لارې پیژندل کیږي ،هلکانو لپاره احتلام او د نجونو لپاره حیض. بغدادي،(۱۴۲۷ هـ)، ۶/ ۲۹۰۴ .
له همدې امله، په حنفي فقه کې ماشوم هغه څوک دی چې د حساب ورکولو عمر ته نه وي رسیدلی، یعنې د بلوغت یا حیض څخه مخکې مرحلې ته د ماشومتوب مرحله ویل کیږي.
د اروپوهنې علماوو په نزد: ماشوم هغه دی چې د زیږون څخه تر بلوغ پورې له مختلفو پړاونو څخه تېر شي؛ تر دې چې لازمه توانی او ګڼ مهارتونه تر لاسه کړي.نشواتی،(۲۰۰۳ م)، مخ ۱۲۲ .
د روزنې پیژندنه: تربیه په لغت کې له دو ریښو: ربو او ربب څخه راغلې چې (ربو) په عربي ژبه کې د زیاتیدو، رشد او نمو کول، وتل او تغذیه کولو په مانا استعمال شوی او (رب) د مالك، خالق، صاحب او مصلح په مانا راغلی دی. ابن فارس،(۱۳۹۹هـ)، ۴۸۳/۲).
تربیه په اصطلاح کې: په تدریجي(ګام په ګام) سره کمال ته د یوه شي رسول دی.نشواتي،(۲۰۰۳ م)، مخ ۱۴.
دوکتور خالد بن حامد حازمي اسلامي روزنه داسی تعریف کړې ده: د اللّٰه تعالی د رضا او د دنیا او آخرت د نېکبختی د لاسته راوړلو لپاره د اسلام د سپېڅلی دین د تګلارې مطابق په تدریجي ډول سره د ژوند په ټولو چارو کې د انسان رشد او روزل اسلامي تربیه ده. حازمی،(۱۴۲۰ هـ). مخ ۱۹.
د ماشومانو د اسلامی روزنې ارزښت: د ماشومانو اسلامی روزنه دومره ارزښتناکه موضوع ده چې اللّٰه تعالی په‌خپل کتاب کې مؤمنانو ته پرې امر کړی او فرمایي: ﴿يا أَيهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَاراً وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيهَا مَلائِكَةٌ غِلاظٌ شِدَادٌ لا يعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيفْعَلُونَ مَا يؤْمَرُونَ﴾.(التحریم:۶).
ژباړه: ای مؤمنانو! خپل ځانونه، اولاد او کورنۍ مو د دوزخ له اور څخه وژغورئ هغه اور چې د سون مواد به يې انسانان او تیږې وي؛ پر هغه به غوسه ناکې، سخت زړې پرښتنې څارونکی وي چې هېڅکله به د اللّٰه تعالی له حکم څخه سر نه غړوي او هر امر چې ورته کیږي هغه به پرځای کوي.
ابن جریر طبری له علی رضی الله عنه څخه روایت کړی چې هغهٔ ویلي:"علِّموهم، وأدّبوهم". یعنی هغو ته تعلیم، ادب او تربیه ورزده کړئ. طبری،(۱۴۲۲ هـ)، ۴۹۱/۲۳ .
عبدالله بن عمر رضی الله عنه رسول اللّٰه صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی دی: هر یو له تاسې(شپونکی) او مسؤل دی او ستاسې له هر یو څخه به د هغه د لاس لاندې کسانو په اړه پوښتنه کیږي، د ټولنې مشر د خپل رعیت، سړی د خپلې کورنۍ، ښځه د خاوند د کور، او خادم د خپل بادار

په مال کې مسؤل دی او د هر چا څخه به د هغه د لاس لاندې کسانو په اړه پوښتنه کېږي .بخاري ( ۱۴۱۴ هـ). ۱/ ۳۰٤.

سترو سترو پوهانو د ماشوم روزنې په اړه سپارښتنې کړې چې له ډلې څخه یې امام غزالي رحمه الله ویلي دي: ماشوم د مور او پلار په لاس کې امانت دی، د هغه زړه د مرغلرې په شان قیمت او نقش منونکی دی، د پاکې ځمکې په څېر دی چې هر ډول تخم پکې وکری، شین کېږي که ښه تخم وکری نو ددین او دنیا نېکمرغۍ ته به ورسېږی، مور، پلار او استاد به یې په ثواب کې شریکان وي او که کار بر عکس وو نو ماشوم به بدبخت او بې لارې شي او یاد کسان به یې په بدو کړو وړو کې شریکان وي. غزالي،(۱۳۳۹هـ)،۲/ ۲۷ .

همدارنګه امام ابن قیم رحمه الله ویلی دی: ډېرې داسې مېندې او پلرونه شته چې د خپلو زړه ټوټو (اولادونو) اسلامي روزنې ته نه پاملرنه هغوی په دنیا او آخرت کې بدبخته کړي دي. ابن قیم،(۱۳۹۱هـ)، مخ ۲٤۲.

اوس پوښتنه داده چې آیا په اسلامي شریعت کې جوماتونو ته د ماشومانو تګ جواز لري او که‌نه؟ په ځواب کې باید وویل شي چې په دې اړه د حدیثونو په رڼا کې دوه انده شتون لري :

لومړی: جوماتونو ته د ماشومانو تګ جواز نه لري بلکې مکروه ده؛ ځکه چې واثله بن أسقع رضی الله عنه له رسول اللّه صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی دی چې هغهٔ وویل: له جوماتونو څخه خپل ماشومان او لیونیان لیرې وساتئ. ابن ماجه،(۱۴۳۰هـ)،۲٤۷/۱.

دویم: جوماتونو ته د ماشومانو تګ جایز دی؛ ځکه چې رسول اللّه صلی الله علیه وسلم خپل لمسیان جومات ته راوستل، همدارنګه اصحابه کرامو او لمونځ کوونکو ښځو به هم خپل ماشومان راوستل تر دې چې یو ځل هم رسول اللّه صلی الله علیه وسلم پر هغو نیوکه نه ده کړی؛ بلکې رسول الله صلی الله علیه وسلم به داسی څه ورسره کول چې د هغه د تشویق او رضایت ښودنه کوي، ابوقتاده انصاري رضي الله عنه څخه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم پداسې حال کې لمونځ کولو چې امامه د رسول اللّه د لور (زینب) لور یې په غېږ کې وه د سجدې په وخت کې به یې په ځمکه کیښوده او په قیام کې به یې پورته کړه. بخاری،(۱۴۱۴هـ)، ۱۹۳/۱).

امام ابن حجر عسقلانی رحمه الله لیکی: ابن دقیق العید ویلي دي: په دې حدیث کې جومات ته د ماشومانو د تګ جواز شته. ابن حجر،(۱۳۹۰هـ)، ۵۹۲/۱.

ترجیح: دویم اند چې جوماتونو ته د ماشومانو تګ روا بولي نسبت اول اند ته په لاندې دلیلونو راجح دی:

۱ - د حدیثي تحقیق له اړخه، لومړی حدیث ضعیف دی؛ ځکه چې احمد بن ابی بکر الکنانی ویلی دی: حرث بن نبهان چې د حدیث په سند کې شتون لري ضعیف راوي دی. بوصیری،( ۱۴۰۳ هـ)،۹۵/۱.

۲ – د تحلیل له اړخه، په لومړی حدیث کې هدف هغه ماشومان دي چې د درک، افهام او تفهیم جوګه نه دی؛ خو که چېرې ماشوم دا قوت وموند او د تمیز عمر ته رسېدلی ؤ، جومات ته تلای شي همدغه موضوع دوکتور محمد بن سلیمان المنیعی بیان کړې او وایې: هغه ماشوم چې د تمیز عمر ته نه وی رسیدلی باید جومات ته ولاړ نه شي ځکه چې د جومات د نا پاکۍ او د لمونځ کوونکو د تشویش لامل ګرځي او اللّه تعالی فرمایلي دي:﴿وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ﴾. (الحج:۲٦). ژباړه: زما کور د طواف کوونکو، قیام، رکوع او سجده کوونکو لپاره پاک کړه. (بحوث ودراسات،۱/ ۱۷۰.

۳ - اړتیا، د قرآني آیت او نبوي حدیث په اساس د ماشومانو روزنه د هغو پر اولیاوو باندې واجب ده. (الموسوعة الفقهیة الکویتیة: ۱۳/ ۱۱.

دا په داسې حال کې چې زموږ د ټولنې ډېرې وګړي د اسلام په اړه مالومات نه لري نو یوازینی ځای چې په هر کلي او ناحیه کې شته، تګ ورته اسانه او ارزانه هم دی هغه جومات دی چې د ماشومانو روزنځای او ښوونځی دی لکه څنګه چې د اسلام په ځلاند تاریخ کې ؤ او د تاریخ په اږدو کې یې بشریت ته کامل او مکمل، صالح او مصلح انسانان وړاندې کړي دي، همدا علت دی چې د حنفي فقهي نومیالی فقیه ابن عابدین شامي رحمه الله وایي: په خلاصه کې راغلي چې د ماشومانو تعلیم په جوماتونو کې روا دی. ابن عابدین،(۱۴۲۱ هـ)، ٦/ ۴۲۸.

جوماتونو ته د ماشومانو د تشویق او هڅونې کړنلاره:

جومات هغه مهال کولای شي چې په ایماني، عبادتي، اجتماعي، سیاسي او فرهنګي روزنه کې خپل تاریخي فعال رول ولوبوي چې خپل مخاطبین په ځانګړی ډول ماشومان جذب او اړیکه ورسره وساتي.

محمد بن إبراهيم الحمد وايي: د ماشومانو د سالمې روزنې یوه مهمه لار دا ده چې هغوی په ماشومتوب کې جوماتونو ته په تللو او په لویتوب کې په جوماتونو کې لمونځ کولو ته تشویق او وهڅول شي. نحلاوي،(۱۴۲۸ هـ)، مخ ۳۱.

نو ددې موخې د لاسته راوړلو لپاره له لاندې کړنلارې څخه ګټه اخیستلی شو :

۱ - مور او پلار: والدین چې د کور په چاپېریال کې د ماشومانو لومړني روزونکي دي، جوماتونو ته د ماشومانو په هڅونه کې مهم رول لري؛ ځکه چې په حقیقت کې والدین د ماشومانو ښوونکي او د هغوی فکر او روان ته نظم او ترتیب وربښي. رَسُولَ اللَّه صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هېڅ ماشوم نه پیدا کېږي مګر په فطرت باندې، نو بیا یې پلار او مور یهودیان، نصرانیان او یا مجوسیان کړي. بخاري،(۱۴۱۴هـ)،۱/ ۴٦۵.

امام مالك رحمه الله ویلي دي: زه ماشوم وم، مور مې ښایسته جامې را واغوستې، پټکی به یې را په سر کړ، د مدینې ستر فقیه، ربیعة بن عبدالرحمن ته به یې واستولم، راته به یې وویل: ته د (ربیعة) مجلس ته ځې، نو له هغه څخه لومړی ادب او سړیتوب زده کړه، بیا ترېنه حدیث او فقه زده کړه. مالك،(۱۴۲۵ هـ)، ۱/ ۲۲.

ابو اسحاق سبیعي وایي: پلار مې مسجد ته بوتلم، راته یې وویل: غواړې چې علي رضی الله عنه ووینې؟ ومې ویل: هو، هغه راته وویل: پورته شه، زه هم جګ شوم، یو شیخ مې ولید چې سر او ږیره یې سپین و او پر منبر باندې ولاړ او ویل یې: په دې امت کې وروسته له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ابوبکر او عمر رضی الله عنهما غوره انسانان دي. أصفهاني،(۱۴۰۷ هـ)، مخ۷۳ .

۲ - د جومات امام: یو له هغو مهمو کسانو څخه چې جوماتونو ته د نوي نسل په ځانګړي ډول د ماشومانو په جذبولو کې بنسټیز رول لري د جومات امام او ماشومانو سره د هغه اخلاقي او رفتاري ځانګړتیا ده، امام کولای شي چې ماشومان جومات ته ښه وهڅوي او د رسول صلی الله علیه وسلم څخه په الهام اخیستلو ماشومان داسی تشویق کړي؛ لکه څنګه چې ترې روایت شوی دی: ابوهریره رضی الله عنه ویلي دي: کله چې به خلکو د لومړی ځل لپاره مېوه ولیده، هغه به یې رسول اللّه صلی الله علیه وسلم ته راوړه، کله چې به رسول اللّه صلی الله علیه وسلم لاسته راوړه نو داسی دعا به یې وکړه: یا اللّه! زموږ په مېوو کې برکت واچوه، زموږ په ښار کې برکت واچوه. ابوهریره رضی الله عنه وایي: رسول اللّه صلی الله علیه وسلم به بیا تر ټولو کوچنی ماشوم را وغوښت میوه به یې هغه ته ورکړه. مسلم،(۱۳۳۴هـ)، ۱۱٦/۴ .

نو له همدې امله د جومات امام او د هغه کړه وړه او ځانګړنه جوماتونو ته د ماشومانو په هڅولو کې تر ټولو ستر لامل دی.

۳ - مؤذن او نور خیرغوښتونکي: زبید بن حارث رحمه الله د یوه جومات مؤذن و، هغه به ماشومانو ته ویل: راځئ په جومات کې لمونځ وکړئ بیا به تاسو ته چار مغز درکړم. ماشومان به راتلل، لمونځ به یې ادا کولو، وروسته به له هغه څخه را تاو شول، نوموړی به چار مغز ورکړل. له زبید رحمه الله څخه پوښتنه وشوه له دې کار څخه څه لاس‌ته راوړی؟ هغه به ویل: په پېنځه دینارو چار مغز اخلم او په اسانۍ سره ماشومان لمانځه ته هڅوم؛ ترڅو هغوی لمونځ کولو سره عادت شي. ذهبی،(۱۴۰۵ هـ)، ۲۹۷/۵.

۴ - فکری بنسټونه: د الجزیرې شبکې د راپور پر اساس، په ترکیه کې څو ښاروالیو جوماتونو ته د ماشومانو د تشویق او جذبول برنامې جوړې کړي دي، که چېرې یو ماشوم یوه میاشت هره ورځ پېنځه ځلې جومات ته د لمونځ لپاره حاضر شي، هغه ته به یو بایسکیل د ډالۍ په ډول ورکول کېږي . (www.aljazeera.nnet).

جوماتونو ته د ماشومانو د تګ آداب: جوماتونوته د ماشومانو استول د هغو په اسلامی روزنه او شخصیت جوړونه کې مهم رول لري؛ نو له همدې امله د ماشومانو میندو، پلرونو او روزونکو ته ښایي چې لاندې آداب په نظر کې ونیسي؛ ترڅو ماشومان د مؤمنانو د لمانځه په جریان کې ګډوډی، شر او شور او بې ادبي ونه کړی او د مسجد حرمت خوندي پاتې شي:

۱ - ماشومانو ته د جومات د اهمیت په اړه ښوونه ورکړل شي او ورته وویل شي، چې مسجد د الله تعالی کور، د هغه د عبادت او د نږدې کیدو ځای دی.

۲- ماشومان له دې مخکې چې مسجد ته ولاړ شي هغوی ته ته د طهارت او اودس کولو طریقه وښودل شي.
۳- باید دوی ته وویل شي چې په مسجد کې شور او لوبې ونه وکړي، بلکې په سکون او آرامۍ کې پاتې شي.
۴- د مسجد د موادو سره لوبې نه کول: لکه د قرآن پاك، ریلونو، قالینو، او د لوډ سپیکرونو سره.
۵- غوره ده چې هغه ماشومان مسجد ته ولېږل شي چې د تمیز عمر(شاوخوا پینځه کلنۍ) ته رسېدلی وي؛ خو که ماشوم ډېر کوچنی وي، نو غوره ده چې مسجد ته را نه وستل شي.
٦-که له ماشوم څخه نا مناسب عمل ترسره شي، باید په نرمه لار ورته سمه طریقه وښودل شي او بې له سختۍ یې اصلاح وشي، تر څو د مسجد سره یې مینه پیدا او لمونځ ته تشویق شي.
د دې لارښوونو په مراعتولو سره، والدین کولی شي خپلو ماشومانو ته د مسجد له روحاني فضا څخه د ګټې اخیستو ښه فرصت ورکړي او د لمانځه او عبادت اهمیت وروښيئ، او د نورو لمونځ کوونکو حقوق هم مراعت کړي. مازن الغزي،(۲۰۲۳ م)، مخ، ٦٦- ٦٨ .
د ماشومانو وهل: د اسلامی شریعت پوهان وایې چې مور او پلار ته روا ده چې خپل ماشومان په وهلو تأدیب کړي؛ ځکه چې رسول اللّه صلی الله علیه وسلم فرمایلی: په اوه کلنۍ کې خپلو اولادونو ته د لمونځ په اداکولو امر وکړئ، د لمونځ د نه اداکولو په سر یې ووهئ خو کله چې لس کلن شي بیا یې د خوب ځایونه(بسترې) یو له بل څخه جلا کړئ. أبی داود،(۱۴۳۰هـ)،۲۰٦/۱).
خو فقهاوو د مور او پلار وهل په لاندې شرطونو مقید کړي دي :
۱ - له لسو وارو څخه ډېر دې نه وي. ۲- پر مخ دې نه وهي. ۳- په هغو ځایونو دې نه وهي چې ماشوم ته عیب پیدا کوي.
۴ - د غصې په وخت کې دې نه وهي. ۵- د وهلو آله باید مناسبه وي. نحلاوي،(١٤٢٨هـ)، مخ۴۰٦.
په ستر فقهي قاموس(الموسوعة الفقهیة الکویتیة) کې د ماشومانو د تأدیب په اړه راغلي دي: معلم او زده کوونکی کولای شي چې شاګرد د هغه د ولی په اجازه ووهي. نو امام او معلم د ماشوم د (ولی) له اجازې سره سره باید پورته پینځه شرطونه مراعات کړي.(الموسوعة الفقهیة الکویتیة، ۲۱/۱۰.
جومات او د ماشومانو اسلامی روزنه: وړاندې مو د جومات فضیلت او د اسلامی روزنې ارزښت د قرآن، نبوي حدیثونو او د پوهانو د اقوالو په رڼا کې بیان کړ، په لاندې کرښو کې د جومات رول د ماشومانو په ایماني، روحي، عبادتي، اخلاقي، اجتماعي، سیاسي او جهادي روزنه کې په تفصیلي بڼه وړاندې کیږي:
الف- جومات او ایماني روزنه: د اسلام په لارویانو کې د ایمان او اسلامي عقیدې ریښې کلکول د اسلامی روزنې اساسی بنسټ شمېرل کیږي. د اسلام ځلانده تاریخ پهدې ګواه دی چې د چا په زړه کې د ایمان اصل ریښه غزولې او د اللّه تعالی، رسول اللّه او د امت د صالحانو مینې او محبت یې په ریښتونی ډول زړه کې ځای نیولی وي، بیا هېڅکله هم د اسلام دښمنانو د یرغلونو او دسیسو ښکار نه دی

گرځېدلی او نه يې بې لارې کولی شي. که د مسلمانانو تاريخي شالید ته نظر واچوو نو وبه وینو چې د اولادونو او ماشومانو ايماني او عقيدوي روزنې ته د اسلامي روزنې په کړنلاره کې ډېره پاملرنه کېده؛ ځکه اسلامي منهج ډېره ستره اړتيا او ارمان لري چې د ايمان روح يې په ژوره توگه په لارويانو کې ځای ونيسي او د ايمان د ونې د کرلو لپاره تر ټولو ښه وخت د ماشومتوب وخت دی، نو له همدې امله به مسلمانانو په کورونو او جوماتونو کې خپلو ماشومانو ته د شهادت کلمه، د ايمان رکنونه، د اسلام بنسټونه، د قرآن کريم تعليم، د پېغمرانو کيسې، نبوي سيرت، د اصحابانو د ژوند پلوشي او... ورزده کول، وروسته به بيا زموږ په ايماني روزنې روزل شوی نسل، په عقيدوي سلاح سمبال عمومي علمي مرکزونو ته د لوړو ¬زده کړو په پار معرفي کېدل، هغوی به د اسلام د سپېڅلي دين سرښندونکي سپاهيان ول چې د خپلو ايماني ارزښتونو په دفاع کې به يې له هيچا څخه ويره نه لرله او همدا د اسلامی روزنې برکت و چې د مسلمانانو په زړونو کې د ايمان رېښه زغلولې او راسخه کړې وه. ندوی،(۱۴۳۲هـ)،مخ: ۱۵-۱٦.

په جوماتونو کې د ايماني روزنې ارزښت له دې مبارك حديث څخه هم په ډاگه کېږي چې: جندب رضی الله عنه وايې: موږ قوی (بلوغ ته نږدې) ماشومان وو له رسول اللّه صلی الله عليه وسلم سره مو عقيده له قرآن کريم څخه مخکې زده کړه، بيا مو قرآن کريم زده کړ، ايمان مو په قرآن سره پياوړی شو. بيهقي،(۱۴۳۲هـ)،۱۲۰/۱. نو د جوماتونو قدرمن امامان دې ماشومانو ته ايماني روزنه په ساده او روانه ژبه ورکړي، لکه چې په دې حديث کې د اسلام ستر لارښود محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم په زړه پورې انداز سره يو ماشوم ته داسی ايماني روزنه ورکړي: عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ويلي دي: يوه ورځ رسول اللّه صلی الله عليه وسلم سره په سپرلۍ باندې شاته سپور وم، ماته يې وويل: ماشومه! تا ته د يو څو کلمو ښودنه کوم: د اللّه تعالی (د هغهٔ د دين) ساتنه وکړه، هغه به تا وساتی، تل الله تعالی په ياد لره، هغه به خپل وړاندې ومومې، که څه شي غواړې له اللّه تعالی څخه يې وغواړه، که مرسته غواړې له اللّه تعالی څخه يې وغواړه، که د نړۍ ټول انسانان راټول شي چې تا ته گټه ورسوی، هيڅ گټه به تا ته ونه رسوی له هغه څه پرته چې اللّه تعالی تا ته ليکلي دي او که چېرې د نړۍ ټول انسانان راټول شي چې تا ته زيان ورسوي، هيڅ زيان به تا ته ونه رسوي له هغه پرته چې اللّه تعالی تا ته ليکلي دي، قلمونه پورته شوی او صحيفې(پاڼې) وچې شوي دي .ترمذی،(۱۳۹۵ هـ)، ٢٨٤/٤).

په اسلامي روزنه کې د جومات ونډه دا هم ده چې د جومات امام د ماشوم په غوږ کې اذان کوي، د توحيد شعار او د شهادت کلمه ورته اعلانوي، که څه هم دغه وخت ماشومان يې په مانا او مفهوم نه پوهېږي؛ خو ماغزه يې متاثره کېږي وروسته بيا ماشوم په تدريجي ډول ورسره اشنا کېږي او د هغې وروسته هره ورځ کې پېنځه ځلې د جوماتونو له منارو څخه د اللّه تعالی د وحدانيت او د رسول اللّه د رسالت د شهادت غږ اوري چې دا خپله ايماني روزنه شمېرل کېږي .

ب- جومات او روحي روزنه: هر کله چې کوم کس د جومات په زيارت سره مشرف کېږي، معنويات يې لوړېږي، ايمان يې قوي کېږي، روح او روان يې سکون او ډاډ حاصلوي؛ ځکه چې د جومات فضا

او چاپېریال الهي او نوراني ده او هلته پر شته وګړو باندې د اللّٰه تعالی له لورې څخه په شیبو شیبو رحمتونه وریږي، لکه څنګه چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمايلی: د اللّٰه تعالی له کورونو څخه په یو کور کې یوه ډله نه ده ټوله شوې چې د اللّٰه تعالی کتاب(قرآن) لولي، په‌خپل منځ کې یې یوه بل سره تدریسوي؛ خو دا چې د اللّٰه تعالی له طرفه پر هغو باندې اطمينان نازلېږي، په رحمتونو کې پوښول کېږي، پرښتې یې احاطه کوي، او اللّٰه تعالی یې د هغو کسانو سره چې له هغه سره دی یادونه کوي او هغه کس چې د عمل په سبب شاته شي هیڅکله به د نسب په سبب وړاندې نه کړی شي. مسلم،(١٣٣٤ هـ)، ٧١/٨.

ج- جومات او عبادتي روزنه: د انسان د ژوند او خلقت وجودي فلسفه د اللّٰه تعالی معرفت او بیا د هغه عبادت کول دي، لکه څنګه چې یې فرمایلی دی:﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ﴾،(الذاريات:٥٦). ژباړه: ما پیریان او انسانان له دې پرته چې زما بندګی وکړي د بل څه کار لپاره نه دی پیدا کړي .

همدارنګه د جومات وجودي فلسفه هم دا ده چې هلته یوازې او یوازې د الله جل جلاله عبادت او بندګي وشي، اللّٰه تعالی فرمايلي دي:﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴾.(الجن:١٨).

ژباړه: او دا چې جوماتونه د اللّٰه تعالی لپاره دي؛ نو له دې امله په هغو کې له اللّٰه تعالی سره کوم بل څوك مه بلئ. نو انسان د اللّٰه تعالی د عبادت لپاره پیدا شوي او جومات هم د اللّٰه تعالی د عبادت لپاره جوړ شوی دی چې دا خپله په عبادتي روزنه کې د جومات په ارزښت او اهمیت باندې دلالت کوي.

عبادت په اسلام کې هر هغه څه ته ویل کېږي  چې اللّٰه تعالی یې خوښوي، خبره وي که فعل، ښکاره وي او که پټه. خو په اسلام کې تر ټولو ستر عبادت، هغه لمونځ دی چې پينځه وخته په جومات کې ادا کېږي تر دې چې د هر عبادت د ادا کولو لپاره دوه اساسي شرطونه دي: یو دا چې اخلاص پکې وي او بل دا چې د رسول الله په طریقه باندې وي، نو لمونځ هغه مهال ادا او د اللّٰه تعالی په در کې منل کېږي چې په جومات کې ترسره شي له همدې امله یو لمونځ په جومات کې نسبت کور او بل ځای ته، پينځه ويشت او یا وويشت درجې ثواب لري.

نو څرګنده شوه چې جومات د ماشومانو په عبادتی روزنه کې مهم رول لري؛ ځکه له یوه اړخه په جومات کې د عباداتو نظري زده کړه ترسره کېږي او له بل اړخه لمونځ چې د اسلام تر ټولو ستر رکن دی په عملي بڼه په جومات کې ماشومانو ته ښودل کېږي.

ر- جومات او اخلاقي روزنه: د ماشوم د شخصیت په ښې روزنې کې د ښو اخلاقو پېژندل او له بدو څخه لرې اوسېدل ډېر ارزښت لري، نو ددې لپاره چې ماشوم د شخصیت په جوړونه او د ښو اخلاقو په پېژندنه کې خطا نه شي او د اسلام د سپېڅلی دین د اصولو په رڼا کې اخلاقي فضایل او رزایل وپېژني باید جوماتونو ته ولیږل شي او تل له اخلاقي ښوونو څخه ګټه پورته کړی؛ ځکه چې اخلاقی

روزنه دومره لوړ مقام لري چې الله رب العزت خپل ستر پیغمبر د ښو اخلاقو په صفت سره ستایلی او وایي: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾. (القلم:۴).
ژباړه: بیشکه چې ته لوړ اخلاق لري. تر دې چې د رسول اللّه صلی الله علیه وسلم د بعثت له لوړو اهدافو څخه یوه هم د اخلاقي ښېګڼو پوره کول دي. رسول اللّه ویلی دي: زه ددې لپاره بشریت ته رالیږل شوی یم چې اخلاقي ارزښتونه پوره کړم. أبو تمام،(۱۴۲۱ هـ)، ۱۲۱/۱.
کله چې ماشوم جومات ته ځي هلته اسلامي اخلاقي ارزښتونه پېژني او د جمعو په خطبو کې اسلامي لارښوونو او ارشاداتو ته هڅول کېږي.
دوکتور علی زهراني ویلی دي: هغه درسي او قرآني حلقې چې په جوماتونو کې شتون لري، د اسلامي اخلاقو په لاس‌ته راوړلو کې مهم رول لري؛ ځکه چې دغه حلقې له زده کوونکو سره د ښو اخلاقو پر پابندۍ او له بدو څخه په لرې والي کې مرسته کوي او دا ځکه چې بد اخلاقي له بدو ملګرو، بې کارۍ، بې علمۍ، له قرآن کریم، نبوی سنتو، د صالحانو له سیرت څخه د ناپوهۍ په نتیجه کې منځ ته راځي. نو زده کوونکي د جوماتونو په حلقو کې له انحرافي کړنو څخه لیرې او په قرآني اخلاقو سمبالېږي، زهراني،(۱۴۲۵ هـ)، مخ ۴۷ .
س- جومات او سیاسي روزنه: جومات په اسلامی ټولنه کې یو سیاسي مرکز هم پاتې شوی دا موضوع د اسلام د ستر لارښود له مبارك سیرت، د راشده خلفاوو له تګلارو او د اسلام له ځلانده تاریخ او د اسلامی نهضتونو له شالید څخه ښه جوتېږي، اسلامي سیاسي روزنه په جوماتونو کې ورکول کېده، بیعتونه په جوماتونو کې اخیستل کېدل دا ځکه چې سیاست د اسلام یو نه بیلیدونکې برخه ده او جوماتونه د اسلامي ویښتابه ستر مرکزونه دی. د دې د ترڅنګ په جوماتونو کې د ماشومانو روزنه د هغو راتلونکی سیاسي کړنو باندې نیغ په نیغه تاثیر لري او د سیاسي حوادثو په وړاندې د هغو په معنوي او مادي لیدلورو باندې پریکنده رول لوبوي. همدا لامل دی چې د اسلامي نظام د بقا او پایښت په پار د جمعو او اخترونو په خطبو کې د أمیرالمؤمنین نوم اخیستل کېږي او د اسلام او مسلمانانو د ښه خدمت لپاره ورته د اللّه تعالی څخه د فلاح او صلاح غوښتنه کېږي چې دا خپله د ماشومانو په ذهن کې د اسلامي نظام ارزښت، حفاظت او د دفاع فکره پیاوړی کوي.
نو له همدې امله د ماشومانو اړیکه له جوماتونو سره او په جومات کې سیاسي روزنه لاس‌ته راوړل په راتلونکې ژوند کې د هغوی په سیاسي بلوغ کې د پام وړ تاثیرات درلودلی شي.
خو کله چې زموږ سیاسي لیدلورې او روزنه له جومات څخه پرې او د شرق او غرب له لورې تلقین شوه هماغه وو چې امت خپل برم له لاسه ورکړ او له ذلت او رسوایي سره مخ شو. امام ابوالحسن ندوي رحمه الله ویلي دي: له بده مرغه اسلامي هیوادونو سیاسي شعور او فکري ویښتابه له لاسه ورکړې دی، دوست له دښمن نه پېژني! له دواړو سره یو ډول معامله کوي تر دې چې له دښمن سره نسبت خپلو دوستانو(مؤمنانو) ته تر ډېره ښه وي، له دې سره چې دوستان یې تل په جهادونو او ستونزو کې تر څنګ دریدلي، اسلامي نړۍ له یوې سمڅې دوه ځلي درډېدلي؛ خو پند اوعبرت یې نه دی اخېستی!!

مسلمانان اوس په ټولو چارو کې بې وسه او په سیاسي چارو کې ډېر بیچاره شوي دي، خپل تېر برم او ځلانده تاریخ یې هېر کړی دی. نو جوماتونه همدغه تشه ډکولی شي؛ ځکه چې په جوماتونو کې د اللّه تعالی د دین ښوونه او روزنه تر سره کېږي چې سیاست یې هم یوه مهمه برخه شمېرل کېږي. ندوی،( ١٤١٤ هـ)، مخ٦٦.

ص- جومات او جهادي روزنه: قرآني پریکړه همدا ده چې د مسلمانانو او کافرانو تر منځ به تل شخړه او جګړه وي؛ ځکه چې جګړه او فساد په الهي شهادت سره د کافرانو ځانګړتیا ده چې شرپسند دي او هیڅکله هم له مسلمانانو سره مسالمت امیزه ژوند نه غواړي، اللّه تعالی فرمایلي دي:﴿وَلاَيَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىَ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُواْ﴾. البقرة،٢١٧ .

ژباړه: هغوی(کافران) به ستاسې سره تل په جګړه اخته وي ، آن تر دې که یې وس ورسېږي، نو تاسې به له دین څخه واړوي .

له همدې امله د جومات له اسلامي دندو څخه یوه دنده دا ده چې داسې ژمن ځواك وروزي چې تل لپاره د اسلامي نظام، اسلامي ارزښتونو او د مسلمانانو دفاع لپاره چمتو وي. کله چې موږ د اسلام په زرین تاریخ کې د مجاهدینو او اتلانو کارنامې مطالعه کوو، وینو چې جومات د اسلام په پیل کې د هغو شازلمیو روزنتون ؤ چې د الهي ارزښتونو په دفاع کې به راپورته شول او ځمکه به یې په یرغلګرو ظالمانو سره تنګه کړه. جومات د اسلام د داسې لارویانو مرکز ؤ چې په یوه لاس کې به یې قرآن او په بل لاس کې توره وه او د حق په لار کې به یې ځانونه فدا او سرونه قرباني کړل تر دې چې د همداسې اتلانو په برکت سره دښمنانو ونه شو کولای چې د دین پر حریم یرغل وکړي، بلکې برعکس د جومات روزل شوي مبارزین به تل فاتحین ول او د (لا إله إلا اللّه محمد رسول اللّه) بیرغ به یې د روم او فارس په مانیو رپاوو.

کله چې د رسول اللّه صلی الله علیه وسلم غزاګانو تاریخ ولولو، وبه وینو چې هغه به جهاد ته د چمتوالي اعلان په جومات کې کولو، حارث بن یزید بکري رضی الله عنه ویلي دي: مدینې ته راغلم او جومات ته ننوتم، ومې لېدل چې له خلکو څخه ډك دی او تور بیرغونه رپېږي، بلال رضی الله عنه د رسول اللّه صلی الله علیه وسلم په وړاندې له تورې سره ولاړ دی. ومې ویل: په خلکو څه شوي؟ هغو راته وویل: رسول اللّه غواړي چې عمرو بن عاص له لښکر سره یوځای واستوي. ترمذي،(١٣٩٥ هـ)، ٥/ ٣٩٢).

امام ندوي رحمه الله ویلي دي: اسلامي امت به اړه د نړۍ واګې په لاس کې واخلي، تېر برم به ژوندی کړي او پر ملتونو به راج وچلوي چې د جهاد د ارزښت او اړتیا شعور په قرآني او شرعي مانا سره په مسلمانانو کې ژوندی شي، ندوي،(١٤١٤)، مخ ٩٢.

که چېرې زموږ د هېواد د وروستۍ نیمې پېړۍ د تاریخ پاڼې واړوو، وبه وینو چې دوه ځلې د شرق او غرب له لورې د یرغل لاندې راغلي؛ خو همدا جوماتونه ول چې د اسلام سر تیري او مجاهدین په کې روزل کېدل، جوماتونه د جهادي روزنې سنګرونه وو تر دې چې په همداسې مبارکو ځایونو کې د

روزنې برکت وو چې د دواړو یرغلگرو ملا ماته او تور مخ وشړل شول. نو ویلی شو چې د جهاد او سرښندنې فکره له جوماتونو څخه اخیستل کېږي او ماشومان په جوماتونو کې جهادي انگیزه او الهام اخلی.

ع- له جوماتونو څخه د استعمار ویره: جوماتونه نه یوازې پر ماشومانو بلکې پر ټول اسلامي امت باندې په اسلامی ویښتابه او استعمار سره په مبارزه او خپلواکۍ کې رغنده اغیزې لري نو له همدې امله نړیوال ښکیلاک، شرقي او غربي استعمار له جوماتونو څخه ویره لري او هڅه کوي چې په اسلامې روزنه کې د دې مهم مرکز د پرمختگ مخه ډب او اسلامی امت ترې لیرې وساتي. ددې خبرې ښه دلیل دا کیدای شي چې د امریکې د بهرنیو چارو وزیرې(رایس) د قاهرې په امریکایې پوهنتون کې وویل: زموږ دنده له دولتونو څخه لوړه ده، زموږ جگړه یوازې له دولتونو سره نه ده بلکې جوماتونه او برنامې یې ډېرې مهمې دي، امریکا دې نتیجې ته رسیدلې چې له دولتونو څخه پرته باید له دې څخه وروسته خپله زیاته پاملرنه جوماتونو او د جوماتونو پروگرامونو ته واړوو. (د جمعې خطبې، مخ۸۰۹). نو ﴿فَاعْتَبِرُوا يا أُولِي الأَبْصَارِ﴾. (الحشر،۲). عبرت واخلئ، ای لیدونکو.

**پایلیزه**

۱ - جومات هغه ځای او مکان دی چې د تل لپاره د لمانځه د ادا کولو لپاره جوړ شوی وي. په اسلامي شریعت کې ماشوم هغه کوچنی دي چې مکلفیت دورې ته نه وي رسیدلي، یعنې د بلوغت نښې یې نه وی څرگندې شوې. د اللّه تعالی د رضا او د دنیا او آخرت د سعادت د لاسته راوړلو لپاره د اسلام د سپیڅلي دین د تگلارې مطابق په تدریج سره د ژوند په ټولو چارو کې د انسان رشد او روزل اسلامي تربیه ده.

۲ - د انسان د ماشومتوب دوره نسبت نورو ژوندیو موجوداتو ته ډېره اوږده او حساسه ده نو ماشوم له نورو څخه ډېر مراقبت او پاملرنې ته اړتیا لري. د ماشومتوب مرحله دومره حساسه گڼل کېږي که چیرې له دې فرصت څخه گټه وا نه‌خیستل شي، ماشوم په اسلامي ښه ونه روزل شي بیا به یې روزنه اسانه نه وی ښایي تر دې چې بیا روزنه به یې محال ته ورته وي.

۳ - امام کولای شي چې ماشومان په مشروطه وهلو سره تأدیب کړي او جوماتونو ته د ماشومانو په هڅولو کې د مور، پلار، امام، مؤذن،کتابتون او مادي امکاناتو رول ډېر مهم دی.

۴ - ماشومان په جوماتونو کې د اللّه تعالی د کتاب او د رسول اللّه صلی الله علیه وسلم د حدیثو په رڼا کې ایماني، روحي، عبادتي، اجتماعي، اخلاقي، سیاسي او جهادي روزنه لاس‌ته راوړي.

۵- د ماشومانو اړیکه له جوماتونو سره د هغو د شخصیت په پیاوړتیا کې تر دې چې د امت په ځواکمن کېدو کې مهمه او هر اړخیزه ونډه لري؛ ځکه د ماشومانو فعالیت په ټولنه کې زیاتوي، د وگړو تر منځ دوستي، مینه او محبت پیاوړی کوي او ټول په یو صف کې د باطل په وړاندې دروي.

سپارښتنې: د څېړنې په پای کې غواړو څښې اړینې سپارښتنې وکړو:

۱ - د ماشومانو له اولیاوو په ځانګړې ډول د دوی له مور او پلار څخه مو هیله دا ده چې خپل ماشومان د اسلامي روزنې او شخصیت جوړونې په پار جوماتونو ته تشویق او ولیږي.

۲ - د جوماتونو له امامانو څخه مو هیله ده چې د جهاد او له کفر سره د فکري مبارزې په نیت دې جوماتونه په هر اړخیز ډول داسلامي روزنې په پار ښه فعال کړي.

۳ - لوړو زده کړو وزارت له مشرتابه څخه مو غوښتنه دا ده چې په اسلامي روزنه کې د جوماتو د رول په اړه یو ملي کنفرانس راوبولی چې دا موضوع د پوهانو په واسطه په هر اړخیز ډول وڅیړل شي.

۴ - د حج او اوقافو له وزارت په ځانګړي توګه د جوماتونو له ریاست څخه مو مطالبه دا ده چې په جومات کې د ماشومانو د اسلامي روزنې په پار یو ملي نصاب، چې له یوه اړخه د اسلام ټول ایماني، عبادتي، اخلاقي، اجتماعي، سیاسي او جهادي ارزښتونه په کې رانغښتي وي او له بل اړخه د تربیتي موادو کیفیت او کمیت د ماشومانو له بدنې او ذهني ظرفیت سره برابر وي چمتو او امامانو ته په واک کې ورکړي.

**سرچینې**


۱- قرآن کریم.

۲- ابن حجر، أحمد بن علی،فتح الباری،ترتیب:محمد فؤاد عبد الباقی،المکتبة العلمیة،۱۳۹۰ هـ، لومړی چاپ.

۳- ابن فارس،أحمد بن فارس بن زکریاء،معجم مقاییس اللغة،تحقیق:عبد السلام محمد هارون،دار الفکر،۱۳۹۹هـ.

۴- ابن عابدین،محمد أمین، حاشیة رد المحتار،علی الدر المختار،شرکة مکتبة ومطبعة مصطفی البابی الحلبی،۱۳۸٦ هـ،دویم چاپ.

۵- ابن قیم،محمد بن أبی بکر بن أیوب،تحفة المودود بأحکام المولود،تحقیق:عبد القادر الأرناؤوط، مکتبة دار البیان،۱۳۹۱ هـ، لومړی چاپ.

٦- ابن ماجه،أبو عبد الله محمد بن یزید بن ماجة،تحقیق:شعیب الأرنؤوط،عادل مرشد او نور،دار الرسالة العالمیة،۱٤۳۰ هـ، لومړی چاپ.

۷- ابن منظور،محمد بن مکرم الافریقی،لسان العرب،دار صادر،بیروت،لبنان، ۱۴۱۴ هـ، دریم چاپ.

۸- أبو تمام،أبو القاسم تمام بن محمدالرازی،الفوائد، تحقیق: حمدی عبد المجید، مکتبة الرشد – الریاض، ۱٤۱۲ هـ، لومړی چاپ .

۹- ابو داود، سلیمان بن الأشعث،سنن ابی داود،تحقیق:شعیب الأرنؤوط- محمد کامل قره بللی،دار الرسالة العالمیة،۱٤۳۰ هـ، لومړی چاپ.

۱۰- ارشاد،حج او اوقافو وزارت،د جمعې خطبې،د اسلامی علومو د مطالعاتو ریاست، ۱۳۹۸ هـ.

۱۱- أصفهانی،أبو نعیم أحمد بن عبد الله بن مهران، تثبیت الإمامة وترتیب الخلافة،تحقیق:الدکتور علی بن محمد بن ناصر،مکتبة العلوم والحکم،۱٤۰۷ هـ، لومړی چاپ.

۱۲- بخاری ،ابو عبد الله محمد بن إسماعيل ،صحيح البخاری ،تحقيق: مصطفى ديب البغا دار ابن كثير، دار اليمامة، ١٤١٤ هـ، پنځم چاپ.
۱۳- برهان فوری، علاء الدين بن حسام الدين الهندی، كنز العمال، ضبط وتصحيح:الشيخ بكری حيانی/ الشيخ صفوة السقا ،مؤسسة الرسالة، ١٤٠٥ هـ، پنځم چاپ.
۱۴- بغدادی ،أبو الحسين أحمد بن محمد البغدادی القَدُّوری ،التجريد للقدوری ،تحقيق: أ. د. محمد أحمد سراج - أ. د. علی جمعة محمد، دار السلام – القاهرة ،١٤٢٧ هـ . دويم چاپ.
۱۵- بوصيری ،أبو العباس شهاب الدين البوصيری ،مصباح الزجاجة فی زوائد ابن ماجه ،تحقيق:محمد المنتقى الكشناوی ،دار العربية، بيروت، ۱۴۰۳ هـ، دويم چاپ.
۱٦- بيهقی، أبو بكر أحمد بن الحسين ،السنن الكبرى ،تحقيق:الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركی ،مركز هجر للبحوث والدراسات العربية والإسلامية، القاهرة ،۱٤۳۲ هـ، لومړی چاپ.
۱۷- ترمذی ،محمد بن عيسى بن سَوْرة الترمذی ،تحقيق وتعليق:أحمد محمد شاكر ،ومحمد فؤاد عبد الباقی ،شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابی الحلبی ،مصر، ۱۳۹۵ هـ، دويم چاپ.
۱۸- حازمی ،خالد بن حامد ،أصول التربية الإسلامية ،دار عالم الكتب للنشر والتوزيع ،الرياض، ١٤٢٠هـ.
۱۹- ذهبی ،شمس الدين ،أحمد بن عثمان ،سير أعلام النبلاء ،تحقيق:حسين أسد ،شعيب الأرنؤوط او نور ،مؤسسة الرسالة ،١٤٠٥ هـ ،دریم چاپ.
۲۰- زركشي ،محمدبن عبدالله ،إعلام الساجد بأحكام المساجد ،لجنة إحياء التراث الإسلامی ،القاهرة، ۱۳۸۴هـ.
۲۱- زهران ،حامد زهران ،علم نفس النمو- الطفولة والمراهقة. دار المعارف، مصر ،۱۹۷۷م ،څلورم چاپ.
۲۲- زهرانی ،علی بن ابراهيم الزهرانی ،أثر الحلقات القرانية فی تحقيق الأمن الاجتماعی ،تعليم القران، رياض ،۱۴۲۷ هـ.
۲۳- الزيد ،زيد عبدالكريم ،وظيفة المسجد فی المجتمع ،دارالعاصمة، الرياض ،١٤٢٢هـ.
۲۴- طبری ،أبو جعفر محمد بن جرير ،تفسير الطبری ،تحقيق:عبد الله بن عبد المحسن التركی ،دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع، القاهرة، مصر ،١٤٢٢ هـ، لومړی چاپ.
۲۵- غزالی ،ابوحامد محمد بن محمد غزالی ،كيميای سعادت ،كتابخانه و چاپخانه مركزی تهران، خيابان ناصر خسرو ،۱۳۳۹ هـ.
۲٦- غزی ،محمد مازن الغزی ،زاد الساجد من آداب المساجد ،دار غار حراء، ۲۰۲۳ م.
۲۷- قرطبی ،أبو عبد الله محمد بن أحمد، الجامع لأحكام القرآن ،تحقيق:أحمد البردونی وإبراهيم أطفيش ،دار الكتب المصرية ،١٣٨٤هـ، دويم چاپ.
۲۸- مالك، مالك بن أنس الاصبحی ،موطأ الإمام مالك، تحقيق:محمد مصطفى الأغظمی ،مؤسسة زايد بن سلطان آل نهيان للأعمال الخيرية والإنسانية، أبو ظبی، ۱۴۲۵ هـ، لومړی چاپ.

۲۹- مسلم،أبو الحسين مسلم بن الحجاج القشيرى النيسابورى،صحيح مسلم،تحقيق:محمد ذهبى أفندى، إسماعيل الطرابلسى او نور، دار الطباعة العامرة، تركيا،١٣٣٤ هـ، لومړی چاپ.
۳۰- نحلاوى،عبدالرحمن،أصول التربية الإسلامية وأساليبها، دار الفكر،١٤٢٨هـ، پنځه ویشتم چاپ.
۳۱- نخبة من اللغويين بمجمع اللغة العربية بالقاهرة،المعجم الوسيط،مجمع اللغة العربية بالقاهرة، ۱۳۹۲ هـ، دویم چاپ.
۳۲- ندوى،أبوالحسن على الحسنى،الخطرالأكبر على العالم العربى،دارالصحوة للنشر والتوزيع، القاهرة،۱۴۱۴ هـ.
۳۳- نشواتى،دوكتور عبدالمجيد نشواتى،علم النفس التربوى،دار الفرقان للنشر والتوزيع، ۲۰۰۳ م.
۳۴- وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية،الكويت،الموسوعة الفقهية الكويتية،دار السلاسل،الكويت. ١٤٠٤ - ١٤٢٧ هـ. دويم چاپ.
۳۵- (www.aljazeera.nnet).

Two quarterly
Ainak Academic- Research Journal
Logar Higher Education Institute
Journal license date: June/2023

# دور المساجد فی التربیة الإسلامیة للأطفال

**الباحث الأول: محمد نذیر محمدی، قسم الثقافة و العلوم الإسلامیة، کلیة التعلیم والتربیة، جامعة لوجر.**
**الباحث الثانی: ابراهیم نوری، قسم الثقافة والعلوم الإسلامیة، کلیة التعلیم والتربیة، جامعة لوجر.**
البرید الالیکترونیکی: Mohammadimohammadnazir١@gmail.com

المستخلص

فی هذه المقالة، تم تحلیل دور المساجد فی تربیة الإسلامیة للأطفال بالمنهج التحلیلی. وذلك نظراً لوجود بُعد المسلمین عن المساجد من جهة، والحرب الفکریة التی یشنها الإستعمار ضدها من جهة أخری، فإن دور المساجد فی تربیة الإسلامیة للأطفال یعد ضرورةً ملحّة. تهدف هذه الدراسة إلی تسلیط الضوء علی دور المساجد فی تربیة الإسلامیة للأطفال. تظهر من نتائج البحث أن تربیة الأطفال تربیة إسلامیة هی واجب إلهی وأن المساجد تُعد من أهم المراکز التی تقوم بهذا الدور. اضافة الی هذا أن مرحلة الطفولیة حساسة للغایة، إذا لم یستغل هذا الفرصة ولم یربَّ الطفل تربیة إسلامیة منذ الصغر، فإن تربیته لاحقًا ستکون صعبة، بل قد تصبح شبه مستحیلة .

الکلمات المفتاحیة: الإسلام، التربیة، الدور، المساجد، والأطفال.

استاد: محمدی، محمد نذیر، نوری، ابراهیم،(۱۴۰۴). دور المساجد فی التربیة الإسلامیة للأطفال، المجلة العلمیة البحثیة عینك، العام الثانی، العدد الرابع: ۱۴۷-۱۶۴.
خپرندویه اداره: لوگر د لوړو زده کړو مؤسسه
© د لیکوال/لیکوالانو حق